مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

داکتر صلاح‌الدین سعیدی

۲۰۲۵/۱۰/۱۸

# د بدي تشخیص بد کار دی؟

اقتلوا الموذی قبل ان یوذی»، مضر حیوانات دضرر رسولو نه مخکي له مېنځه یوسئ !

د ناروا حاکمیت، ناروا حاکم، په پاکستان د پاکستان د زرهاو مظلومو انسانان قاتل حاکمیت د پاکستان نامشروع او لاسپوڅی صدر اعظم او د اردو مشر له امریکي نه د راتګ سره سم د غرق کېدو په حالت کي د پاکستان حکمرانی د نجات پخاطر او د مالي مرستو د حصول او د افغانستان د تباهی په پنځوس کلن سیاست د ادامي لار ، بیا په مکارو او درواغو، شرارت او فتنو ادامه ورکوي او په پوره سپین سترګی، لاس پورې کوي !
دا مکار او کاذب شخص ( شهباز شریف) وایي :چې د افغان طالبانو حاکمیت پر پاکستان حملې وکړې او...
ښکاره ده چې د افغان طالبان په قدرت رسولو او د افغانستان په تباهی کي د ۵۰ کلو راهیسي مختلف اصلي، بهرني او داخلي لاملونه شته، خو د پاکستاني لامل ستر او عالم أسباب کي مهم لامل، بنیادي دی !
پاکستاني استابلشمنت خپل افراطیون ( تي تي پي او ...) د افغان طالبانو مختلف جزایر، سره یوځای راټول او په افغانستان کي یې په ۲۰۲۱ کې، مات او ګوډ نظام او جمهوریت ړنګ کړ!ً
اوس اوس بیا
د پاکستان استابلشمنت نه شرم لري او نه حیا، خو دغه سرکوزي تمام د هیرامندوي تر سطحي او کچي ټیټ پاکستاني سیاستوال شهباز شریف او ... په ښکاره درواغ وایي او سپین سترګي کوي !

ما دري لسیزې پخوا داسي فکر درلوده چي سیاست کول، یعني درواغ، حیله، نیرنګ او کثافاتو کي ګشت او ګذار او لاس وهل او له دغه کثافاتو سیاسیون ځانته غوړه مړی جوړوي !خو په مرور د زمان یوه شوم چي زما پوهه نیمګړې ده !
هو سیاست کول همدا دي چي شریر، بي عزت ، بي شرفه او بي شخصیته انسانان یي کوي !
خو سیاست کول عبادت، د رسالت او د وجیبي اداء ده چي با عزته، با شرفه او رسالت مند انسان یی کوي !

شهباز شریف او د پاکستان جنرالان او پوځیان، د پوځیانو نطاقان او طاهر خان د همدو کثیفو او بي حیثیته او بي عزتو انسانانو او سیاسیونو څخه دي !

په امریکه او د مصر په شرم الشیخ کي د شهباز شریف خبرې او اظهارات، د یوې سیاسي فاحشي خبرې او د اسلام په نامه د جوړ شوي پاکستان هېواد اجرائیوي ګوډاګي له خولي د انسانیت په نامه ستر تور داغ وه او دی !
انسان څنګه دومره ذلیل او پست کېدای شي !
کله کله داسي وېل کېږي چي فلان شخص بي عزته، بي شرفه او بي حېثیته دی! وېل کېږي چي انسان هماغسي چي اشرف المخلوقات او د انسانیت او انسان مقام تر عرشه رسېدلای شي، هماغسي په تخلف، ضلالت او ګمراهی، تر اسفل السافلین هم رسېدلای شي !
دا سیر هو صعودي او هم نزولي جانب لري چي شهباز شریف او د پاکستان اکثر استابلشمنت همدا نزولي سیر او مسیر لري، کذاب او درواغجن هم دي !

اوس نو راشو ورته او دغه برخه کي اړین او مشابه بحث ته او هغه داچي، که څوک د سپي او یا لېوه او یا پیشو آواز باسي او هماغسي، له دغه حیواناتو چمونه او کردې کوي، او چا دا آواز او کردې، تشخیص کړې، نو انسان چي دا کردار او آواز یي تشخیص وکړ او د سپي آواز ته یې د سپي آواز وویلي، لېوه اواز او کړو ته یې د لېوه



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

آواز او کړه ووېلي نو دا تشخیصونکي بې ادبي وکړه  او مقصر شو او که د سپي او لېوه  آواز ایستونکی او عمل کوونکی مقصر او خطاء کار دی؟
زما په گمان او پوهه که د لېوه او سپي آواز ایستونکي او کردار لرونکي  په مورد کې، په خپل تشخیص کې انسان صادق او امانت داري  وکړي،  نباید ورباندې انتقاد وشي چې ولې مو د سپي او لیوه او یا کوم بل شریر ځناور  آواز او کردار  تشخیص کړلو !
دلته راشو  هغه حالت ته چې وطن پلوري او خاین ته په پوره دقت او پوره مستنداتو خاین ووایاست او حرامي ته حرامي ووایاست او تشخیص وکړئ نو تاسي د ادب له چوکاټه وتي یاست؟
زما په پوهه که انسان بدي، شرارت، لړم او مار په موقع خلکو ته په پوره صداقت او نیک نیت او  امانت دارئ بیانوي او  معرفی کړي نو داسي تشخیص بیا   خلک يې له ګزنده وساتل او خلکو ته یې لازمه او عاجله افشاء کړي او تنویر وکړ او د رسالت اداء هم وشوه !
ممکن دا افشاګر ځانته مشکل او خطر د تشخیص په صورت کې جوړ کړي، خو د ثواب او د رسالت ادای هم کړې !
ساکت د حق له بیانه، ګنهګار  او ورته د ګنګ شیطان اطلاق شوای دی !
اگر بینی کی نابینا و چاه است
اگر خاموش  بنشيني گناه است !
نو رسالت به په پوره ډول او دوامداره توګه،  اداء کوو !
بې تفاوته پاتې کېدل ګناه ده !
نو د بدئ تشخیص نه تنها چې بد کار نه دی، بلکې د رسالت اداء هم ده! د خېر په کار کې لاس ورکړئ او مرسته وکړئ! ( و تعاونوا علی البر والتقوی -صدق الله العظیم) !

و ما علینا الا البلاغ المبین
داکتر صلاح سعیدی
۲۰۲۵/۱۰/۱۷


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ